# گرانو ملگرو ، دوستانو ، خویندو او ورونو

له هرڅه نه مخکی زه پوهندوی دوکتور سید حسام )مل( په جرمنی کی د آینده غورځنګ دفدرا سیون دمسول اوددغی تاریخی غونډی دیو کوربه په حیث ، ګردو وګړپالو برخوالوته دزړه له کومی ښه راغلاست وایم ، او په دی ویاړم چی یو ځل بیا په جلا وطنی کی دتاسواغلو او ښاغلو په مینځ کی ځان وینم ، اودمبارزی دهغه اوږدی لاری ترخی او خوږی شیبی را یادوم .چی په ګډه سره ځنګ په ځنګ مو د افغانستان دخواریکښو او بی وزلو خلکو دهوساینی او د ا ستبداد له چغ څخه دخلا صون پړاونه یو بل پسی وهلی . دتاسو د اکثروخیری ماته پردی او نا‌ا شنا نه ښکاری ، د ستا سی کار نامی اود مبارزی سختی ورځی ما ته او ځمادلاری ملګرو ته لکه د لم ر په څیر روښان را ښکاری ، او هم دیادونی وړ بولم چی زمونږغورځنګ اوه کاله مخکی دځو وطنپرستو په هیواد مینو ملګرو په همت سره په هغه حالاتواوشرایطو کی چی د طالبی انرشیزم دبرلاسی اوواکمنی دوره وه او د کیڼ اړخ غورځنګ د ختمیدو اودکامل زوال اوپرځیدنی ناری سوری وهل کیدل اود خلک دموکراتیک یا دوطن دګوند دډیرو غړو هیلی اوامیدونه په سیند کی لاهو اود ناامیدی نښی نښانی دهغو په څیرو کی سیوری اچولی وه سر را پورته کړ او خپل مرامی اهداف ټولوکیڼ اړخو غورځنګونو ته بی له کوم تنګ نظری بیان او اعلام کړ، چی مونږ هم ددی اعلامی سره همغږ اود مبارزی ډګر ته راووتو ، اواوس مونږ ته د ویاړنی ځای دی چی لرونکی د یو قوی ، منسجم ، او منظم غورځنګ او ځواک یا ستو او د خپل ګران او محترم ملګری او مشر دوکتور عبدالله (نایبی) تر عالمانه ، نه ستړی کیدونکی لار ښونی او رهبری لاندی خپل مبارزی ته دخپل هدف دلاسته راوړلو دپاره په هڅه او اند کی یوو.
ملګرو او دوستانو.
همغسی چی مخکی مو د افغانستان د زحمت کشانو بیرق لوړ کړی وه بیا دهمغی لاری نه ستړی کیدونکی لاروایان یاستو او د علمی نقاد نړی لید په رڼا کی دژوند تر پایه پوری څه چی مو په وسه وی دخپلو خلکو د هوساینی او د موجوده نا خوالی او مصیبتونو د خلاصون او دهغو د آزادی ، سوکالی دپاره خپل هڅی ته دوام ور کوو ، او هم د خپلوخلکو دسر لوړی پرچم په لوړ ساتلو سره هر چیری چی یاستو خپل هڅه او اند به نه سپموو ، اودخپل روښان نړی لید په رڼا کی دهغو لارو چارو په لټون کی خپل لار له کګلیچ څخه سمی ته درسیدو په هیله مخ په وړاندی وباسو ،اود راتلونکی نسل دپاره به خپل دړه تور پرینیږدو ، مګر ځمونږ دا هڅه او اند دتاسو په ګډون اوهمت سره لا پیاوړی کیږی ، او مشخص لاسته راوړنی به لری.
ګرانو ملګرو ،اغلو او ښا غلو. زمونږ د آینده غورځنګ د المان دفدرا سیون دغړو شمیر دنورو هیوادونو د آینده غورځنګ د فدرا سینونو دغړو دشمیر په پرتله زیات دی ، اودبلی خوا څخه ځمونږ دملګرو په مینځ کی دپوره ملګرتیا، صمیمت ،

وروورگلوی اود سالمی دموکراسی فضا مسلط دی . اوزه دخپل ټولو ملگرو څخه مننه کوم چی ددی ستری غونډی د تدویر په برخه کی له هیڅ ډول هڅی او اند څخه ونه سپمول اود کنفرانس د کوربه مسولیت یی په خپل غاړه واخیستل ، زمونږ فدراسیون دخپل حزبی چاری مالی لگښتونه د خپلو غړو ملگرو دحق العضویت او اعانی سره سمبا لوی ، مونږ له هیڅ یو هیواد ، له هیڅ یو سازمان ، ارگان یا کوم بل گوندڅخه مالی لگښتونه نه تا مینوو اود کوم مرستی چی دقید او شرط سره وی انتظار هم نه باسو.ځمونږ فدرا سیون هیله مند دی چی یوه ورځ به د ټولو چپو ، وطنپالو ،او دمباریزینو د لوی غونډی دتدویر میزبانی په غاړه واخلی او خپل تنده مات کړی.

گرانو ملگرو ، اغلو او ښا غلو.

زه په دی باور یم چی د افغانستان هر وطنپال او خصوصاً تا سی به هم د خپل گرانهیواد افغانستان د ننی او جاری وضع څخه ډیر نارام او ستړی یا ستی ، په رغندهډول سره یادوم چی د افغانستان نجیب اولس د توری ارتجاع او د تیگی ددوری په سره بټی کی سوځی .او د هغو امیدونه او هیلی په اوبو کی لاهو شوی دی .او د نړیامپریالستی قوتونه او دهغی په سر کی د امریکی دولت ،ځمونږ د هیواد د نابودی دموجوده لاس پوڅی ، ناپوه اوکرغیړن دولت سره لاس لیک کړی او هره ورځ ځمونږ خلک د تباهی کندی ته را نژدی کیږی. ا سمان لری او دخلکو تر پښو لاندی ځمکه اور اخیستی . دهغو لاس نیونه او له کندی څخه د هغو د ایستلو لاره ځمونږ او د تا سی دنده دی. راځی چی پخپل ا فغانی هوډ سره او د ټولنی د مخکښ او کار پوه انسانانو او روشنفکرانوپه حیث خپل دندی وپیژنو ، اودخپل خلکو د روا حقونو د تر لاسه کولو په هیله خپل صفونه او قطارونه سره نژدی کړو اوله بلند پروازی ، ژبنی ، قامی ، سمتی ، تعبدی ، او ځنی نورونارو غیو څخه ځان وژغورو او دخپل خلکو طوفان وهلی کشتی سا حل ته وبا سو.

زه خپل خبری ددی لاندنی خپل شعر په لوستلو سره سرته رسوم ، بریالی اوسی

افغان خلک کړیږی

ځیر شه ورته گوره چی افغان څنگه سوځیږی
چیغی څوک نه اوری پخپل وینو کی لم بیږی
هلته له آ سمانه په بی وزلو تندر اوری
نشته یو غمخور په وطن زوړ او ځوان ځوریږی
ته هم دلته راغلی زنده باد شعار دی هیر شو
هلته خواریکښو له خپل حقه محروم کیږی
هلته ځای دی تش دی دبی وزلو خبر نه اخلی څوک
بی د ستا حضور نه وران وطن دی نه جوړیږی
مونږه د آینده نهضت په لیکو کی ټول شوی یو
لاس د وحدت راکړی چی په بیره وخت تیریږی

هلته جهادیانو لاس ورکړی وطن پلوری
ستا د نیمی لاری یاران په ډالر خرڅیږی
زرشی ، ګړندی شی ، خپل صفونه رانژدی کړی
ستا سو ځانځانی کی( مل) افغان خلک کړیږی
***********
ستا سو له پاملرنی څخه مننه ، په درناوی

دکتور سید حسام مل

www.ayenda.org